اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

(دا مضمون د کتاب ”فیضانِ نماز“ صفحه 99 تا 114 نه اخستے شوے دے.)

# د پینځه وخته لـمونځونو فضائل

دعائے عطّار: یا رَبَّ الـمصطفٰی! څوک چې دا رساله ” د پینځه وخته لـمونځونو فضائل “ اولولي یا ئې واوري هغه ته د جُمات په وړومبي صف کښې پینحه واړه لـمونځونه جمعې سره د ادا کولو توفیق ورکړې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ورځ د قیامت به په خلقو کښې ما ته زیات نزدې هغه وي چا چې په دُنیا کښې په ما باندې زیات دُرُود شریف وئیلي وي.

(ترمذی، ج2، ص27، حدیث: 484)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سحر او مازدیګر لـمونځ کوونکي به جَهنّم ته نه ځي

حضرتِ سَیِّدُنا عُماره بِن رُوَیبه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې ما د خوږ مُصطَفٰی رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے: ”چا چې د لـمر د راختلو او پریوتلو نه مخکښې لـمونځ ادا کړو (یعني چا چې د **سحر** او **مازدیګر** لـمونځ اوکړو) هغه به بالکل جَهنّم ته نه داخیلیږي.“ (مُسلِم ص۲۵۰ حدیث ۱٤۳٦)

## د وَتْر مطلب

حضرت عَلَّامه اَبُو سُلَيمان خَطّابِي شافِعِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د وَتْر معنىٰ ده ”نقصان كيدل يا ترينه په زور اخستل“ پس د چا نه چې بال بچي او مال په زور واخستے شو يا د هغه نُقصان اوشو لكه هغه چې يواځې پاتې شو. لِهذا د لمانځه قضا كيدلو نه انسان ته داسې ويريدل پكار دي څنګه چې هغه د خپل كور د كسانو او مال و دولت تللو (يعني بربادېدلو) نه ويريږي. (اكمال المعلم بفوائد مسلم ج ٢ ص ٥٩٠)

## مړي ته قَبْر كښې داسې ښكاري لكه لمر چې پريوتو والا وي

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: چې كله مړے قَبْر ته داخل شي نو هغه ته داسې ښكاري لكه د لمر ستركه چې پريوتو والا وي نو هغه ستركې مږي او كښيني اَو وائي: ”ما پريږدئ چې لمونځ اوكړم.“ (ابنِ مَاجَه ج ٤ ص ٥٠٣ حديث ٤٢٧٢)

## اے فرښتو سوالات ورروسته اوكړئ

حَكِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاك د دې حِصَّے (هغه ته داسې ښكاري لكه د لمر ستركه چې پريوتو والا وي) نه لاندې ليكي: دا احساس ورته د مُنكَر نَكِير په رابيدارولو كيږي، اګر كه هر وخت خخ شوے وي. ولې چې د مازديګر د لمانځه زيات تاكيد دے او د لمر د ستركې د پريوتولو وخت د دې د تللو دليل دے، څكه ورته دا وخت ښودلے كيږي. د حديث د دې حِصَّے (ما پريږدئ چې لمونځ اوكړم) نه لاندې ليكي: يعني اے ”فرښتو! سوالات ورروسته اوكړئ د مازديګر وخت په ختميدو دے ما پريږدئ چې لمونځ اوكړم“. دا به هُم هغه كس وائي څوك چې دُنيا كښې د مازديګر د لمانځه پابند وو، **الله** دِ ئې رانصيب كړي. څكه **ربّ** [تعالىٰ] فرمائي:

حٰفِظُوۡا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الۡوُسۡطٰى ۚ

[مَفهُوم]ترجمهٔ کنزُالاِیمان: حفاظت اوکړئ د ټولو لـمونځونو او د مينځني لـمونځ. (پ۲، البقرة:۲۳۸)

يعني ”د ټولو لـمونځونو خُصُوصاً د مازديګر ډير حفاظت اوکړئ.“ صوفِيائے کرام فرمائي: ”چې ښنګه ژوند تيروئ هغسې به مړه کيږئ او ښنګه چې مړه کيږئ هُم هغسې به پاڅيږئ.“ ياد ساتئ! مُؤمِن ته به هغه وخت داسې ښکاري لکه د خوبه چې راپاڅيدلے وي، ځنکدن وغيره به ترينه ټول هير وي. کيدے شي چې د دې عرض (ما پريږدئ چې لـمونځ اوکړم) په وجه ترينه هډو سوال و جواب اونشي او که ترينه اوشي نو نهايت آسان ځکه چې د هغه دا خبره د ټولو سوالونو جواب شو. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج۱ ص۱٤۲)

کیا پوچھتے ہو مجھ سے، نکیرین! لحد میں
لو دیکھ لو! دل چیر کے، ارمانِ محمد
څه تپوس کوئ زما نه په لـحد کښې نکيرَينو
زړه مې څيرې کړئ اُوګورئ، په ارمان د محمد يم

## د رزق د تقسيميدلو وختونه

حضرتِ سَيِّدُنا امام شَعراني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وائي: ما د سيِّدي علي خَواص رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه دا فرمان اوريدلے دے چې مادّي (يعني محسوسيدلو والا) رِزق کوم چې زمونږه د بدنونو خوراك وي، د سحر د راختلو (يعني د سحر د لـمانځه د شروع کيدلو د وخت نه واخله) د لـمر سترګه د راختلو يعني د يوے نيزے همره پورته کيدلو پورې (يعني د لـمر راختلو نه 20 مِنَټه پس پورې) الله پاك تقسيموي او د رُوح خوراك يعني معنوي رِزق کوم چې په سترګو نه ښکاري (يعني په څه چې د زړه او دماغو سکون مبني وي) د مازديګر د لـمانځه نه پس نه واخله د لـمر پريوتلو پورې تقسيموي. (الواقع الانوار القدسية ص٦٧) د دې روايت مقصد دا دے چې دا وختونه په غفلت کښې مه

تيروئ بلکه په ذِکر و عبادت کښې ئي تيروئ.

## د مُنافَقت يوه نـښه

خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چې ما د سرورِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې دا د مُنافِق لـمونځ دے چې ناست وي او د لـمر د سترګې اِنتِظار کوي تر دې چې کله د لـمر سترګه د شيطان د دوو ښکرو مينځ له راشي (يعني پريوتلو ته نزدے شي (مِراٰة ج٢ ص٣٠٠)) نو اودريږي او څلور ټونګے اُووهي چې په هغې کښې د **الله** لږ شان ذِکر اوکړي. (مُسلِم ص٢٦٤ حديث ١٤١٢)

## د دې حديث نه درې مسئلے معلومې شوے

**مُفَسِّرِ قرآن** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح کښې ليکي: د دې حديث نه درې مسئلے معلومې شوے، يوه دا چې په دُنياوي کاروبار کښې د اخته کيدو په وجه د مازديګر لـمونځ ناوخته (يعني مکروه وخت کښې) کول د منافقانو نښه ده. بله دا چې د لـمر پريوتلو نه شل مِنټه مخکښې د کراهَت (يعني مکروه تَحرِيمي) وخت دے، مُسْتَحَب وخت کښې د مازديګر لـمونځ کول پکار دي. دريمه دا چې رُکُوع او سَجْده ډير په اِطمينان کول پکار دي. حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تادئ تادئ (يعني د زر زر لـمونځ کوونکي) سجدے ته د چرګ ټونګے وهلو سره تَشبِيه ورکړي ده، ځکه چې هغه د دانے خوړلو په وخت کښې په زمکه زر زر [ټونګے] وهي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج١ ص٣٨١)

## د مازديګر د لـمانځه نه پس مه اُوده کيږئ

رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”څوك چې د مازديګر نه پس اُوده شي او د هغه عقل

لا ړ شي نو هغه دِ صرف خپل ځان ملامته کړي.“

(مُسنَد اَبو يَعْلى ج ١ ص ٢٧٨ حديث ٤٨٩٧)(بهارِ شريعت ج ٣ ص ٤٣٥)

نمازوں کے اندر خشوع اے خدا دے
پئے غوث اچھا، نمازی بنا دے

په لـمونځـونو کـښې خُـشوع را کړې يـا الله
په خاطر د غوث، ما کړې لـمونځ گزاره ته مَولٰی

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَـمَّد

## د سُنَّت د درې حُرُوفو په نِسبت

## د مازديگر د سُنَّتو مُتَعَلِّق درې فرامِينِ مُصطَفٰےﷺ

﴿١﴾ الله پاك دِ په هغه كس رحم اوكړي چا چې د مازديگر نه مخكښې څلور ركعاته اوكړل.

(اَبو داؤد ج ٢ ص ٣٥ حديث ١٢٧١)

﴿٢﴾ څوك چې د مازديگر نه مخكښې څلور ركعاته اوكړي، الله پاك به د هغه بدن په اور حرام كړي. (مُعْجَم كبِير ج ٢٣ ص ٢٨١ حديث ٦١١)

﴿٣﴾ څوك چې د مازديگر نه مخكښې څلور ركعاته اوكړي، هغه ته به اور نزدے هم نه ورځي.

(مُعْجَم اَوْسَط ج ٢ ص ٧٧ حديث ٢٥٨٠)(بهارِ شريعت ج ١ ص ٦٦١)

## د مازديگر د سُنَّتو په باره کښې مَدَني ګلونه

د مازديگر د فرضو نه مخكښې څلور ركعاته كول سُنَّتِ غيرِ مُؤَكَّده دي. په دې كښې (او د ماسختن د فرضو نه مخكښې د څلورو سُنَّتو) د وړومبي او دريم ركعت په شروع كښې دِ ثناء، اَعُوذ او بِسمِ الله اُووائي. د دويم او څلورم ركعت نه پس ”قَعده“ فرض ده. دواړو قعدو كښې د اَلتَّحِيات نه پس دُرُودِ اِبراهيم او دُعا هم اولولئ. څلور سُنَّتِ غيرِ مُؤَكَّده شروع كولو نه پس د جَمعې

اودريدلو په صورت کښې په دوه رکعاتو سلام اوګرځوئ او **جُمعه** کښې شامل شئ خو د ماسپښين او جُـمُعه سُنَّتِ قَبلِيه يعني فرضو نه مخکښې کيدونکي څلور سُنَّتو کښې څلور رکعاته پوره کړئ. د دې مسئلے تفصيلي معلومات ”فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه“ جِلد 8 صفحه 129 تا 136 کښې کتلے شئ.

# د ماښام د لـمانځه فضائل

## د مقبول حج او عُمرے ثواب

خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے. ”چا چې د ماښام لـمونځ د **جَمعي** سره ادا کړو د هغه د پاره به **د مقبول حج او عُمرے ثواب** ليکلے کيږي او هغه داسې دے لکه هغه چې په **شَبِ قَدر** کښې قِيام اوکړو.“

(جَمعُ الْجَوامِع ج ۷، ص ۱۹۵ حديث۲۲۳۱۱)

## د ماښام د فرضو نه پس شپږ رکعاته

**دوه فرامينِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعاته اوکړي او د هغې په مينځ کښې څه بده خبر اونکړي نو د دولسو کالو د عبادت (د ثواب) برابر به کړے شي.

(ترمِذِی،ج۱ ص ٤٣٩ حديث ٤٣٥)

﴿۲﴾ څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعاته اوکړي د هغه ګناهونه به اوبخښلے شي اګر که د سمندر د زګ همره وي. (مُعجَم اَوسَط ج ٥ ص ٢٥٥ حديث ٧٢٤٥)

## د اَوّابِين د لـمانځه طريقه

د ماښام د درې رکعاته فرض ادا کولو نه پس شپږ رکعاته يو سلام سره ادا کړئ، په هرو دوو [رکعاتو] قَعده کوئ او په هغې کښې اَلتَّحِيات، دُرُودِ اِبراهِيم او دُعا وائي. د ورومبي، دريم او پينځم رکعت په شروع کښې ثناء، تَعَوُّذ او تَسمِيَه (يعني ثناء، اَعُوذ او بِسمِ الله) هُم اولوَلئ. د شپږم

رکعت د قعدے نه پس سلام اوګرځوئ. ورومبي دوه رکعاته سُنَّتِ مُؤَکَّدَہ شو او باقي څلور نفل. دا دے د اَوَّابِین (یعني د توبه کوونکو) لمونځ (الوظیفۃُ الکریمه ص٢٦-٢٦ مُلَخَّصاً) که غواړئ نو دوه دوه رکعاته هُم کولے شئ. **بهارِشریعت جِلد اوّل** صفحه 666 کښې دي: د ماښام نه پس **شپږ رکعاته مُسْتَحَب** دي، دے ته صَلٰوۃُالاَوَّابِین وائي، اګر که یو سلام سره ټول ادا کړي یا دوه (سلام) سره یا دري سره او دري سلام سره یعني **هرو دوو رکعاتو باندې سلام ګرځول غوره دي.**

(دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٥٤٧)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ماښام او ماسخُتن د مینځه د عبادت ثواب

حضرتِ سَیِّدُنا عُمر بِن ابو خلیفه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ بیان کوي چې مونږه د حضرتِ سَیِّدُنا عطاء خُراساني رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ سره د ماښام لمونځ ادا کړو، د لمانځه نه پس چې مونږه بیرته روانیدو والا شو نو هغوئي زما لاس اونیولو او اُوئي فرمائیل: "د ماښام او ماسخُتن د مینځه دے وخت نه خلق غافِله دي، دا د اَوّابینو (یعني د توبه کوونکو) د لمانځه وخت دے. چا چې په دې دوران کښې د لمانځه په حالت کښې د قرآنِ کریم تِلاوت اوکړو لکه هغه چې د جَنَّت په باغیچه کښې دے." (اللہ والوں کی باتیں ج۵ ص۲۵۹)

# د ماسخُتن د لمانځه فضائل

## په مُنافِقانو باندې د سحر او ماسخُتن لمونځ بوج وي

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه رِوایت دے چې د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: "په ټولو لمونځونو کښې زیات ګران (یعني بوج) په منافِقانو باندې د **ماسخُتن او سحر** لمونځ دے، او کوم چې په دې کښې فضیلت دے که خبر وے نو ضرور به حاضریدلې اګر که په سُرینو (یعني بدن کښې چې په ناسته کښې د بدن کومه حِصَّه په زمکه لګي

د هغې) په ښويدلو ښويدلو يعني چې خنګه هم كيدے شوے راتللے به.“
(ابنِ مَاجَه ج١ ص ٤٣٧ حديث ٧٩٧)

## د حديث مبارك شرح

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې ليكي: ولې چې مُنافِق صرف ښودنے د پاره لـمونځ كوي، په نورو وختونو كښې خو ئې په څه طريقه اوكړي خو د **ماسخُتن** په وخت كښې د خوب غَلَبه وي او د **سحر** په وخت كښې ئې د خوب خوند مست كړي. اخلاص او عِشق ټول مُشكِلات حل كوي، هغه په هغوئې كښې نشته، لِـهذا دا دواړه لـمونځونه هغوئې ته ډير درانه (يعني ډير غټ بوج) ښكاري، د دې نه دا معلومه شوه چې كوم مسلمان په دې دوو لـمونځونو كښې سستي كوي هغه د منافقانو په شان كار كوي.
(مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج١ ص ٣٩٦)

## مُنافِقان د ماسخُتن او سحر لـمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري

**د تابعي** بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه رِوايت دے چې د سردارِ دوجهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: ”زمونږه او د مُنافِقانو په مينځ كښې علامت (يعني نښه) د **ماسخُتن** او **سحر** په لـمانځه كښې حاضريدل دي ځكه چې مُنافِقان دے لـمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري.“ (مؤطا امام مالِك ج١ ص ١٣٣ حديث ٢٩٨)

## په حديث كښې كوم مُنافِق مُراد دي

**حضرتِ** عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليكي: په دې حديث كښې د بيان شوي مُنافِق نه مُراد (د دَورِ رِسالت بد ترين كفّار نه دي چې هغوئې به ځان ته په دروغو مسلمانان وئيل خو د زړه نه كافِر وو بلكه دلته مُراد) ”مُنافِقِ عملي“ دي (كوم چې حقيقت كښې مسلمانان دي) د حديث د دې حِصَّے ”مُنافِقان دے لـمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري“ نه مُراد دے: مونږه دا لـمونځونه

په راستۍ او خوشحالۍ ادا کوو، مونږ ته په دې دوارو لـمونځونو کښې **جَمعي** سره ادا کولو د پاره جُمات ته راتلو کښې هيڅ مَشَقَّت نه وي او په مُنافِقانو باندې دا لـمونځونه درانه دي ځکه هغوئي دا په خوشحالۍ او راستۍ سره د ادا کولو طاقت نه لري. (شه مخکښې فرمائي:) واضحه دِ وي چې **مُنافِق** (عَمَلي) د عبادت قائمولو د پاره بلکه د عادت په وجه **لـمونځ** کوي او ولې چې د هغه نَفس **لـمونځ** کول ناخوښه ګنړي ځکه هغه د ټولو سره يو ځائے نه بلکه په خپل کور کښې يواځې لـمونځ کوي. (مخکښې نور ليکي:) د بعضې عارِفِينو (يعني د **الله** تعالیٰ پيژندګلو لرلو والؤ) قول دے چې: د سحر لـمونځ **جَمعي** سره پابندۍ سره کولو سره د دُنيا مشکل کارونه آسان شي، د مازديګر او ماسخُتن په لـمانځه کښې د **جَمعي** پابندۍ سره زُهد پيدا کيږي (يعني د دُنيا نه بے رَغبتي نصيب کيږي)، د ''خواهشاتو'' د پيرَوۍ نه نفس منع کيږي. (فيض القدير ج۱ ص۸۴، ۸۵)

## د ماسخُتن د لـمانځه نه مخکښې اُوده کيدل

حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې د ماسخُتن د لـمانځه نه مخکښې اُوده شي **الله** پاك دِ د هغه ستركه نه اُوده کوي. (جَمعُ الْجَوامِع ج۷، ص۲۸۹ حديث ۲۳۱۹۲)

اَميرُ **الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپلو حُکّامو ته يو فرمان اوليکلو چې په هغې کښې دا هُم دي چې څوك د ماسخُتن نه مخکښې اُوده شي **الله** دِ اوکړي چې د هغه ستركې اُودے نه شي، څوك چې اُوده شي د هغه ستركې دِ اُودے نه شي، څوك چې اُوده شي د هغه ستركې دِ اُودے نه شي. (مؤطا امام مالِك ج۱، ص۳۵ حديث ۶)

د **سَيِّدُنا** عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د فرمان مُتَعَلِّق **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د جنابِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا دُعائے ضَرر د اِظهارِ غَضَب (يعني د خفګان ښکاره کولو) د پاره ده. ياد ساتئ چې د **ماسخُتن** نه مخکښې اوده کيدل او د **ماسخُتن** د لـمانځه نه پس بے ضرورته ويښ اوسيدل (دا دواړه کارونه) خِلافِ سُنَّت او **نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ناخوښه دي. خو د لـمانځه

نه مخکښې اُوده کيدل او لـمونځ نه کول او دغسې د **ماسخُتن** نه پس ويښ اوسيدل او د **سحر** لـمونځ قضا کول حرام دي ځکه چې **د حرام ذريعه** هُم حرامه وي. (مِراٰۃ ج۱ ص ۳۷۷)

## د ماسخُتن نه مخکښې اُوده کيدل مکرُوه دي

"**بهارِ شريعت**" کښې دي: د ورځې په وړومبۍ حِصَّه کښې اُوده کيدل يا د ماښام او ماسخُتن تر مينځه اُوده کيدل مکرُوه دي. (بهارِشريعت ج ۳ ص ٤٣٦)

## د ماسخُتن د لـمانځه نه پس خبرې اترې

﴿۱﴾ عِلمي خبرې، د چا نه د مسئلے تپوس کول يا د هغې جواب ورکول يا د هغې تَحقِيق و تَفتِيش کول، داسې خبرې کول د اُوده کيدو نه غوره دي ﴿۲﴾ د دروغو قصّے کول، مسخرے کول او د توقو ټقالو خبرې کول دا مکرُوه دي ﴿۳﴾ د مُوَانَسَت خبرې اترے کول يعني د ښځې او خاوند يو بل سره [خبرې کول] يا ميلمه سره د هغه د زړه د پاره خبرې کول دا جائز دي. داسې قِسم خبرې چې اوکړې نو په آخره کښې دِ ذِکرِ اِلٰهی کښې مشغول شي او په تَسبِيح او اِستِغفار باندې د کلام خاتِمه کيدل پکار دي. (بهارِشريعت ج ۳ ص ٤٣٦)

## د لـمونځونو د نومونو وجه

**فَجر**: د فجر معنٰی "سحر" دے[1] ولې چې د فجر لـمونځ د سحر په وخت کښې ادا کيږي، ځکه دے لـمانځه ته د فجر لمُونځ وائي.

**ظُهر**: د ظُهر يوه معنٰی ده "ظَهِيرةٌ" (يعني: غرمه)، ولې چې دا لـمونځ د غرمے په وخت کښې ادا کيږي، ځکه دے ته د ظُهر لـمونځ وائي.

**عَصر**: د عصر معنٰی ده: "د ورځې آخري حِصَّه" ولې چې دا لـمونځ په هم دے وخت کښې ادا کيږي ځکه دے لـمانځه ته د عصر لـمونځ وائي.

---

1 [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: (پ۱۵ بنیٓ اِسرائیل: ۷۸)

**مَغْرِب**: د مغرِب معنیٰ د لـمر د پريوتلو وخت دے، ولې چې د ماښام لـمونځ د لـمر پريوتو نه پس ادا کيږي ځکه دے لـمانځه ته د مغرِب لـمونځ وائي.

**عِشاء**: د عِشاء لُغوي معنیٰ د شپې ابتدائي تِياره ده[1] ولې چې دا لـمونځ د تِيارے کيدلو نه پس ادا کيږي ځکه دے لـمانځه ته د عِشاء لـمونځ وائي. (شرح مُشكِلُ الآثار لِلطحاوی ج۳، ص۳٤، ۳۱ مُلَخَّصاً)

تو پانچوں نمازوں کا پابند کر دے
پئے مصطفٰے ہم کو جنت میں گھر دے

ما پابند کړې د پينځه وخته لـمونځونو يا الله
په جَنَّت کښې راکړې کور په خاطر د مُصطَفیٰ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 (نُزهَةُ القاری ج۲ ص۲٤٥)